**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوښتنې ځواب

## په اوکراین کې د روسیې د جګړې پایلې
(ژباړه)

**پوښتنه:**
فرانس ۲۴ د ۲۰۲۲م کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه خبر ورکړ چې: «د اوکراین پوځ یوه ویاند اعلان وکړ چې ځواکونه یې د روسي ځواکونو تر کلابند کولو وروسته د هیواد په ختیځ (دونباس سیمه) کې لیمان ښار ته ننوتل...». د روسیې ولسمشر، ولادمیر پوتین د جګړې په ډګر کې له ستر شاتګ وروسته د خلکو د بسیج کولو امر وکړ؛ له دویمې نړیوالې جګړې وروسته لومړی ځل دی چې داسې امر کېږي (یورونیوز، ۲۰۲۲/۹/۲۱). دا اعلان وروسته تر هغه کېږي چې اوکرایني ځواکونو د روسیې له لوري پراخې اشغال شوې سیمې ازادې کړې: «د اوکرین مرستیال دفاع وزیر الحرة تلویزیوني شبکې ته وویل چې د اوکراین په ختیځ کې یې هغه ۱۰ زره کیلومتره مربع ځمکه ازاده کړې چې روسیې د اوکراین په ختیځ کې اشغال کړې وه... نوموړي زیاته کړه چې کیېف له غربي هیوادونو څخه زیاته مرسته ترلاسه کړې او په ختیځ کې مو په ځوابي بریدونو کې برې خپل کړې... (البلاد، یکشنبه ۲۰۲۲/۹/۱۸).

پوښتنه دا ده: ایا روسیه له پوځي اړخه کمزورې ده؟ که اوکراین ته د غربي وسلو لېږد زیات شوی؟ ایا په روسیه کې به د احتیاطي ځواکونو نسبي بسیج، په جګړه کې د روسیه پله درنه کړي؟ له روسیې سره د اوکراین د څلورو سیمو د الحاق اهمیت څه دی؟ که څه هم له دې پېښې یوه ورځ وروسته لیمان ښار چې د الحاق شوې سیمې یوه برخه ده، بېرته د اوکراین لاس ته ولوېد. ایا د دې امکان شته چې روسیه له الحاقي پلان څخه لاس په سر شي؟

**ځواب:**
د دې لپاره چې دغه نوې رامنځته شوې پېښې په ښه ډول تحلیل شي او پر اړخونو او پایلو یې پوه شو؛ لومړی باید ټینګار وکړو چې د موقف یا د قدرتونو د توازن د بدلون لپاره لکه څنګه چې د تاریخ په اوږدو کې ښکاره شوي، تر ټولو چټکه لار اوږدې جګړې دي. د اوکراین په جګړه کې د تحولاتو له څارلو ښکاري چې:

۱- روسیې په اوکراین کې په دې موخه جګړه پیل نه کړه چې په دنباس سیمه کې د روسي ژبو وګړو دفاع وکړي؛ که څه هم د دوی پلمه همدا وه، بلکې غوښتل یې چې د روسیې نړیوال دریځ پیاوړی کړي. د جګړې په پیل کې روسیې له اروپا، امریکا او ناټو څخه په ناټو سازمان کې د اوکراین د نه غړیتوب په ګډون د امنیتي ضمانتونو غوښتنه کوله. روسیې فکر کاوه چې غربیان د دوی پر وړاندې له نابرابرۍ کار اخلي او د لومړۍ درجې اټومي ځواک په توګه یې نړیوال دریځ له پامه غورځوي. د جګړې له پیلېدو وړاندې مسکو په خپلو بیانیو کې همدې ټکي ته اشاره کوله. له امریکا او غرب څخه د لیکلو امنیتي ضمانتونو پر غوښتنه باندې د مسکو ټینګار هم پر همدې موضوع دلالت کوي. نو د دې موضوع درک مهم دی. امریکا او تر شا یې اروپا د روسیې جګړې ته د نړیوال نظم پر ضد د بغاوت په سترګه کتل؛ دوی د اوکراین ځمکنۍ ادعا یا په ختیځ اوکراین کې له روسي ژبو څخه د روسیې د دفاع ادعا بې ځایه ګڼله. له روسیې سره د امریکا او غرب اوسنی تعامل له هغه تعامل سره توپیر لري چې روسیې په ۲۰۱۴م کال کې کریمیه له خپلې خاورې

سره الحاق کړه. یعنې هغه وخت له یوه لوی قدرت سره مخ وو چې نړیوال نظم – چې په راس کې یې امریکا وه- یې ګواښلی و، خو اوس داسې نه ده.

۲- دا ځل د روسیې پر وړاندې د امریکا او اروپا ځواب سخت و او روسیه چې په سیاسي حماقت مشهوره ده، د داسې حالت د راتلو تمه یې نه لرله. امریکا او اروپا پر روسیې سخت بندیزونه ولګول او په بهر کې یې شتمنۍ ور کنګل کړې. اروپا سره له دې چې د روسیې تېلو او ګازو ته یې سخته اړتیا لرله، اړیکې یې ورسره پرې کړې. اروپا، په ځانګړي ډول جرمني خپل ځان بیا ځلې په وسلو سمبال کړ، امریکا او اروپا اوکراین ته ډېرې وسلې ورکړې. په اوکراین کې د روسیې له جګړې وروسته، امریکا وښوده چې د غرب مشري پر غاړه لري، په دې اړه د پخواني ولسمشر، ټرمپ په دوره کې شکونه وو. امریکا له خپلو متحدینو سره اړیکې پیاوړې کړې او په دې برخه کې یې شته نیمګړتیاوې له منځه یووړې. روسیې ځکه پر اوکراین برید وکړ چې د خپل ځواک له نیمګړتیاوو څخه ناخبره وه؛ تر شپږو میاشتو زیات وخت ووت چې روسیې دا درک کړه. امریکا په تدریجي توګه اوکراین ته وسلې ورکولې او د مسکو غبرګون یې څاره. د وخت په تېرېدو، امریکا او متحدینو یې د روسیې سرې کرښې یو په بل پسې ماتې کړې. وروسته دغه هیوادونه د روسیې تر سرو کرښو واوښتل او روسیې ونه شو کولی چې مخه یې ونیسي. له دغو سرو کرښو څخه تېرېدل په دې معنا ده چې اوکراین ته یې وسلې ورکړې، کمیت او کیفیت یې ور لوړ کړ او له دفاعي حالت څخه یې تهاجمي ته تیار کړ... له همدې امله امریکا مخکې اوکراین نه هڅاوه چې په کریمیه کې پر روسیې برید وکړي، خو اوس یې دې کار ته هڅوي.

۳- روسیې له ستراتیژیک حماقت څخه کار واخیست او په بېباکه توګه یې د اوکراین پر خاوره برید وکړ. روسیې د اوکراین پر وړاندې د ځواکمنتیا احساس کاوه، د اوکراین پر پلازمېنه کیېف یې برید وکړ، خو شاتګ ته اړ ایستل شوه او دونباس ته ستنه شوه. دغه پرشاتګ د روسیې د پوځ ستره نیمګړتیا په ګوته کړه. روسیې له خپل هوایي ځواک څخه کار وانخیست، په اوکراین کې یې هوایي کرښې مهار نه کړې، د خپلو پرمختللو ځواکونو لپاره یې لوژیستکي ملاتړ چمتو نه کړای شو او د استخباراتي معلوماتو خلاف د اوکراینیانو له سخت مقاومت سره مخ شول. له همدې امله د روسي پوځ لویه نیمګړتیا ښکاره شوه او د اوکراین دفاع ته یې د واشنګټن تمه پیدا کړه. ولسمشر پوتین روسیه او خپل پوځ پیاوړی ښوده؛ خو د جګړې په ډګر کې یې کمزروی د ده د خبرو خلاف وې. د جګړې په ډګر کې د روسیې کمزوری ته په کتو، په کیېف کې بهرني سفارتونه بېرته پرانیستل شول او غربي چارواکو یو په بل پسې د اوکراین له پلازمېنې څخه لیدنې پیل کړې.

۴- امریکا اوکراین ته د پوځي مرستو ترشا موخې اعلان کړې او د یادو موخو اعلان مسکو ولړزاوه. امریکا د سپوږمکۍ پر مټ د اوکراین لپاره ساحوي استخباراتي معلومات راټولوي او پوځي سلا مشورې ورکوي. ان د امریکا د پوځ لوی درستیز وویل چې نوموړي خپل اوکرایني سیال په اوونۍ کې اووه ځله هم راغوښتی دی (الجزیره، سپټمبر ۲۰۲۲) او امریکا که څه هم مخامخ نه ده ښکېله، خو په ټوله معنی د اوکراین جګړه خپله جګړه ګڼي. امریکا هره اوونۍ د اوکراین لپاره ملیاردونه ډالر اضافي پوځي مرستې اعلانوي. له شک پرته امریکا په اوکراین کې د روسیې ماتې او د لویو هیوادونو له نوملړ څخه د دغه هېواد ایستلو ته ژمنه ده. روسیې اوس دا خبره درک کړې، خو اوس ډېر ناوخته دی!

۵- د روسیې د ستراتیژیکې نیمګړتیا بل شاخص دا دی چې، سره له دې چې اروپا اعلان وکړ چې د روسیې تېلو او ګازو ته اړتیا لري، بیا هم تر جګړې د شپږو میاشتو له تېرېدو وروسته هم اروپا ته تېل او ګاز ورکوي؛ یعنې پر هغو هېوادونو یې خپل تېل او ګاز بند نه کړل چې سهار او ماښام د دوی پر وړاندې دښمني

اعلانوي. له دې ښکاري چې مسکو که څه هم په وياړ سره وايي چې د غرب بنديزونو يې پر اقتصاد اغېز نه دی کړی او د روبل ارزښت ثابت پاتې دی، خو بيا پيسو ته اړتيا لري! روسيې که څه هم د نارد ستريم ۱ د ګاز نل‌ليکه د ۲۰۲۲م کال د سپټمبر په پيل کې د چاودنو له امله بشپړه بنده کړه، خو دا کار يې ډېر ناوخته وکړ او تل به يې ويل چې روسيه اوس هم د انرژۍ د باور وړ سرچينه ده. اروپا ته نورې ليکې لګه؛ د يمل ليکه چې له پولنډ څخه تېرېږي، د پروګريس او سوييز ليکه چې له اوکراين څخه تېرېږي او ترک ليکه چې له ترکيې څخه تېرېږي تر اوسه هم فعالې دي او اروپا ته ګاز لېږدوي. يوازې پولنډ او اوکراين څو ليکې پرې کړې، خو روسيې يوه هم نه ده پرې کړې. پيسو ته د روسيې اړتيا په نړيوال ډګر کې د روسيې حيثيت زيانمن کړی دی. له جګړې څخه مخکې روسيې هڅه کوله چې خپل نړيوال دريځ غښتلی کړی، خو اوس خبره برعکس روانه ده!

۶- سربېره پردې په خارکيف کې تر ماتې وروسته، د شانګهای همکارۍ سازمان په سرمشريزه کې چې د سپټمبر په منځ په سمرقند کې ترسره شوه، د چين دريځ روسيه حيرانه کړه. د روسيې ولسمشر څرګنده کړه چې هغه په اوکراين کې د چين وېره او اندېښنې درک کوي او پوتين له خپل چينايي سيال سره د اوکراين له جګړې وروسته په خپله لومړنۍ ناسته کې وويل چې: روسيه د اوکراين د کړکېچ په تړاو د چين متوازن دريځ ستايي (الجزيره نېټ، ۲۰۲۲/۹/۱۵). نو روسيې ته د چين دريځ معلوم شو، چې د اوکراين تر جګړې مخکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د نامحدودې همکارۍ تړون لاسليک شوی و خو وروسته چين متوازن دريځ خپل کړی. يعنې چين نه له روسيې او نه هم له اوکراين او غرب سره دی. چين د شانګهای همکارۍ سازمان په سرمشريزه کې له روسيې سره په ګډ بيان کې د اوکراين د نوم له يادولو ډډه وکړه او يوازې اشاره يې ورته وکړه. امريکا د اوکراين په جګړه کې له روسيې څخه د چين له ملاتړه وېره لرله، خو چين د خپلې نړيوالې سوداګرۍ له وېرې د روسيې له ملاتړ څخه لاس واخيست... له همدې امله، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په ناسته کې چين د روسيې له لوري د څلورو سيمو د الحاق ملاتړ ونه کړ. د ۲۰۲۲م کال اکتوبر په لومړۍ نېټه، فرانس ۲۴ خبر ورکړ: (د جمعې په ورځ روسيې د امنيت شورا هغه مسوده ويټو کړه چې د روسيې له لوري د اوکراين د څلور سيمو د الحاق غندنه يې کوله ... دغه مسوده د امريکا او البانيا له لوري وړاندې شوه او د لسو نورو غړو هېوادونو ملاتړ هم ورسره و؛ چين، هند، برازيل او ګابون بيا له رايې ورکولو ډډه وکړه.)

۷- د ذکر شويو خبرو په رڼا کې؛ ښکاره کېږي چې د روسيې شرايطو ته د تسليمېدو لپاره پر اوکراين ناکام بريدونه د روسيې له خطرناکې پوځي کمزورۍ پرده پورته کوي. همدارنګه ښيي چې امريکا او غرب له اوکراين څخه هر اړخيز ملاتړ کوي؛ دا ملاتړ کله ښکاره او کله پټ وي. روسيې له جګړې مخکې د دغو نويو واقعيتونو تمه نه درلوده؛ د روسيې بهرنيو چارو وزير، سرګي لاوروف په ۲۰۲۲/۹/۱۲ نېټه يادونه وکړه چې روسيه له اوکراين سره د مذاکراتو مخالفه نه ده (الجزيره، ۲۰۲۲/۹/۱۲). نوموړی پوهېږي چې اوس هغه د تسليمۍ شرايط له منځه تللي چې د جګړې په پيل کې يې پر اوکراين وضع کولی شول. د اټومي وسلو له کارولو پرته اوس د روسيې د شرايطو پوره کېدو هيله نشته؛ دا ښايي د روسيې په لاس کې وروستۍ پړه وي. خو د اټومي وسلو کارول به امريکا هم په يو ډول نه يو ډول جګړې ته کش کړي. روسيه اوس هم له اوکراين سره په جګړه کې برې ځکه نه شي ترلاسه کولی چې امريکا دوامداره پوځي مرسته ورسره کوي؛ که مستقيمه ورسره ښکېله شي، خو بيخي يې تر وس تېره ده. له همدې امله، روسيه په اوکراين کې تر جګړې وروسته له يوه سخت حالت سره مخ ده.

۸- روسيه په ټولو دغو خطرونو پوهېږي او روسي ولسمشر د ماتې له منلو ډډه کوي (د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين د پوځ د نسبي بسيج کولو اعلان وکړ، نوموړي اشاره وکړه چې هېواد يې له اټومي ګواښونو

سره مخ دی (الجزیره نیټ، ۲۰۲۲/۹/۲۱). همدا رنګه د لوهانڅک، دونیڅک، خېرسون او ژاپوریژیا ولایتونو استازو له روسیې سره د یوځای کولو په موخه د سپټمبرله ۲۳ تر ۲۷ پورې د ټولپوښتنې اعلان وکړ (ترکي انادولو اژانس، ۲۰۲۲/۹/۲۱)). ټولپوښتنه ترسره شوه او الحاق وشو. الجزیره نیټ په ۲۰۲۲/۹/۳۰ نېټه خبر خپور کړ: (د روسیې ولسمشر پوتین اعلان وکړ چې د اوکراین لوهانڅک، دونیڅک، خېرسون او ژاپوریژیا د روسیې خاوره وګرځېده. نوموړي په یوه اوږده وینا کې د غرب له لوري د نړیوال نظم کنټرول وغانده، په داسې حال کې چې د اوکراین ولسمشر زیلنسکي ومنله چې هېواد یې د روسیې د عمل په غبرګون کې غوښ اقدام کوي). سره له دې، اوکراین په یادو څلورو سیمو کې خپلو پوځي عملیاتو ته دوام ورکړ... فرانس ۲۴ وېبپاڼې په ۲۰۲۲/۱۰/۱ نېټه خبر ورکړ چې: (د اوکراین د پوځ یوه ویاند د روسي ځواکونو تر کلابندي وروسته، ختیځ ښار لیمان ته د اوکرایني ځواکو ننوتل اعلان کړل، یاد ښار د مسکو لپاره یو مهم لوجیستکي مرکز و. روسیې هم ومنله چې په زرګونو پوځیان یې د جګړې په ترڅ کې له ښاره وتلي دي. د جمعې په ورځ، د ولادیمیر پوتین د څلورو سیمو د یوځای کولو تر تصویب وروسته، روسیې خپلو سیاسي هڅو ته هم دوام ورکړ... د اوکراین دفاع وزرارت پر خپله ټویټر پاڼه ولیکل: (اوکرایني هوایي ځواک په دونیڅک سیمه کې لیمان ښار ته داخلېږي). تر دې یو څو شیبې وړاندې، اوکرایني پوځ ویلي و چې په زرګونو روسي سرتېري یې په لیمان ښار دونیڅک سیمه کلابند کړي دي، هغه سیمه چې د جمعې په ورځ روسیې له ځان سره الحاق کړه. دا په داسې حال کې ده چې مسکو د اوکراین د خاورې د څلورو سیمو له الحاق وروسته هڅه کوي چې سیاسي اختلافونه نور هم زیات کړي. د اوکراین دفاع وزارت پر خپله ټویټرپاڼه ولیکل چې د اوکراین د هوایي ځواکونو له برید وروسته د دې هېواد ځواکونه د دونیڅک سیمې لیمان ښار ته ننوتلي. له دې اعلان لږ وړاندې د اوکراین پوځ ویلي وو چې په دغه سیمه کې یې زرګونه روسي عسکر کلابند کړي.

۹- که د روسیې درېځونه په غور سره وارزوو، لاندې ټکي ترې په ډاګه کېږي:

الف: د تاریخ په اوږدو کې د روسیې لیډلوری دا و چې ځمکنیو لاسته راوړنو ته ګوري او په هره بیه یې ساتل غواړي. له همدې امله یې دا ځل هم په هغو سیمو کې چې په بشپړه یا نسبي توګه یې تر کنټرول لاندې راوسلتې وې، د ټولپوښتنې اعلان وکړ او له روسیې سره یې یوځای کړې؛ دا یې یوه تیاره ګوله (مړی) وګڼله. روسیه غواړي ووایې چې یادې نوې سیمې (لوهانڅک، دونیڅک، خېرسون او ژاپوریژیا) د روسیې خاوره شوې او پر دغو سیمو برید پر روسیه برید دی؛ په دې صورت کې د دغو سیمو د دفاع لپاره ممکن له اټومي وسلو کار واخیستل شي؛ دې ته روسیه «پوځي-اټومي عقیده» وایي. یعنې، روسیه غواړي امریکا او اروپایي هیوادونه ووېروي او د اوکراین د ملاتړ له امله هغوی په خطر کې واچوي؛ ځکه اوکراین د روسیې پر خاوره برید کړی دی او په دې ډول د اوکراین پوځ هم له ګواښ سره مخ کړي. دا ټول د روسیې د پوځ پر کمزورۍ دلالت کوي او دا چې روسیې د اوکراین جګړه ونښوه ګټلی، نو ځکه اوس د اټومي وسلو کارولو ته اشاره کوي. په داسې حال کې چې د نړیوال تړون له مخې په جګړو کې د اټومي وسلو کارونه منعه ده.

ب: د ۳۰۰ زرو احتیاطي سرتېرو د جذب لپاره دا اعلان، چې ممکن له دې لوړ شمېر ته اړتیا شي، په غېر مستقیم ډول د روسي پوځ کمزورۍ په ګوته کوي او پر دې دلالت کوي چې روسیې ونه شول کولای چې په اوکراین کې خپلې موخې ترلاسه کړي او درونډ بشري زیان روسیه اړ ایستله چې له احتیاطي ځواکونو کار واخلي. دا په داسې حال کې ده چې روسیه په ویاړ سره وایې چې دا یوه جګړه نه ده، بلکې ځانګړي پوځي عملیات دي.

۱۰- په اوکراین کې جګړه په ډېر احتمال سره یوه سخت پړاو ته ننوتلې او لوی خطر هم ورسره مل دی. که روسیه غواړي خپل حیثیت بیرته خپل کړي، په راتلونکو ورځو کې -که وکولی شي او داسې وکړي- به په اوکراین کې هر څه ته اور واچوي. ګڼ شاخصونه پر دې دلالت کوي چې د روسیې وړتیا کمه او اراده یې کمزورې شوې ده. روسیه ډېر وروسته پوه شوه چې په اوکراین کې له امریکا او اروپايي هیوادونو سره مخ ده؛ اروپايي هیوادونو که څه هم روسیې ته یوه کوچنۍ لاره پرانیستې پرېښې ، خو امریکا په بشپړ ډول شا ور اړولې ده. اروپا غواړي د روسیې تېل د روان کال تر پایه قطع کړي او وروسته یې ګاز هم قطع کړي. له دې ټولو څخه دا جوتېږي چې اروپايي هیوادونو له روسیې سره د ښکېلېدو په تړاو تهاجمي دریځ خپل کړی دی او جرمني هم د روسیې پر ضد سختې څرګندونې کوي او ځان په وسلو سمبالوي. روسیې د دې لپاره ټولپوښتنه وکړه چې د اوکراین څلور سیمې د روسیې برخه وګرځوي او روسیه دغه خپله لاسته راوړنه او تیاره ګوله ګڼي او د هستوي وسلو په مټ د یادو سیمو دفاع یې مبهمه کړې. خو غرب یادې ټولپوښتنې رد کړې او اعلان یې وکړ چې له پوځي اړخه به د اوکراین ملاتړ ته دوام ورکړي، ان دفاعي سیستمونه به ورکړي چې له دې سره به د اوکراین هوایي ځواک لا غښتلی شي. دغه کار د روسیې حالت نور هم کړکېچن کوي.

۱۱- د پوځي شنونکو په وینا؛ د نسبي پوځي بسیج او احتیاطي نا مسلکي سرتېرو موضوع د روسیې پوځ ته ډېره ګټه نه شي رسولی. د روسي د پوځ د کمزورۍ موضوع د پوځ د شمېر د زیاتوالي په نسبت ډېره ژوره ده. دا د رهبرۍ او تجهیزانو د نشت موضوع ده چې د روسیې پوځ تجهیزات نه لري؛ که څه هم د روسیې پوځ خپل فعالیت کوي او د سږې جګړې په څېر اوس هم د روسیې کارخونې په لوړه کچه تولیدات عرضه کوي، خو دا ځکه بسنه نه کوي چې امریکا او اروپايي هیوادونه د اوکراین پوځ ته د اړتیا وړ تجهیزات ورکوي. که په اوکراین کې د روسي ځواکونو مرګـژوبله همداسې دوام وکړي، د روسیې دننه به پر کریملین مانۍ کې د جګړې بندېدو په موخه فشار ډېر شي. په بالتیک بحیره کې د روسیې د نارد ستریم ګاز لیکو چاودنې او د روسیې له ارزانه او طبیعي ګاز څخه د اروپا د تمې شکېدل به دا فشارونه نور هم زیات کړي. دا ټول به د روسیې او اروپا ترمنځ اړیکې لا ترینګلې کړي او د اوکراین پوځ ملاتړ به نور هم زیات کړي. دا به د اروپا دا غوښتنه له خنډ سره مخ کړي چې له روسیې سره باید د ارزانه ګاز پیرلو په موخه سوله وشي. چین وار له مخکې روسیې ته شاه کړې وه، روسیه فکر کوي چې له امریکا او غرب سره په جګړه کې یوازې پاتې ده. د کریملین مشران د ناسمو محاسبو له امله له پراخو نیوکو سره مخ دي او په راتلونکي کې به د دغه ناوړه حالت لپاره ملامت شي.

۱۲- روسیه د اټومي وسلو د کارولو اراده نه لري او غربي استخباراتو هم د روسیې د هستوي ځواکونو د کوم نوي اقدام څرک نه دی په ګوته کړی. د هغوی په اند؛ پوتین اټومي وسلې نه کاروي، بلکې ګواښونه کوي. امریکا او اروپايي هیوادونه د روسیې له اټومي وسلو څخه وېره نه ده ښکاره کړې، خو وايي دا ګواښونه جدي نیسي؛ په ځانګړي ډول په اوکراین کې. خو بیا هم امریکا اعلان وکړ چې پر اوکراین باندې د روسیې د اټومي وسلو د کارولو پر وړاندې به ځواب ووايي. ان که دا ځواب د معمولي او نا اټومي وسلو په واسطه د امریکا او روسیې تر منځ د اټومي جګړې د مخنیوي لپاره وي. بیا هم ممکنه ده چې دا موارد د روسیې په لاس کې د وروستۍ وېرونکې وسلې ځواک واخلي او ښايي دا وسله له جګړې وروستیو قضیو په حل کې د روسیې لپاره لویه ستونزه جوړه کړي.

۱۳- د پوښتنې بله برخه له الحاق څخه د روسیې د لاس اخیستلو په اړه وه؛ که روسیه له الحاق څخه لاس واخلي، معنی یې دا ده چې هغه له خپل نړیوال دریځ څخه اوړي او هلته یې نفوذ ختمېږي؛ دا د روسیې د مشرتابه لپاره سخته تمامېږي. له همدې امله، روسیه تمه لري چې پر دغو څلورو سیمو، چې ټولپوښتنه پکې

ترسره شوې، اکتفا وکړي او ښايي په خارکيف کې د هغو سيمو تر لاسه کولو هڅه هم وکړي چې له لاسه يې ورکړې. په دې سره به د روسيې ولسمشر د خپلو خلکو پر وړاندې ځواکمن ښکاره شي او په ۲۰۱۴ کې د کريميې تر اشغال وروسته به يې نوي سيمې په خپل قلمرو کې شاملې کړې وي. که داسې وکړي، دا به د يوه داسې لوی ځواک لپاره کوچنی موخه وي چې غوښتل يې ټول اوکراين په لنډه موده کې له ستوني تېر کړي. له بل لوري، امريکا او غربي هېوادونه اوکراين هڅوي او د پوځ ملاتړ يې کوي چې د روسيې له لوري اشغال شوي سيمې ازادي کړي. له اوکراين څخه د غرب زياتېدونکی ملاتړ او د روسيې لخوا د احتياطي ځواکونو راټولول جګړه نوره هم زياتوي او دغه جګړه به اوږده شي. د اټومي وسلو له کارولو پرته په دغه جګړه کې د روسيې د ګټلو چانس خورا کم دی. د اوکراين جګړه له نورو نړيوالو خطرونو سره هم مخ ده... د روسيې د بهرنيو چارو وزير، لاوروف وايي چې روسيه له مذاکراتو سره مخالفت نه لري ، خو امريکا او برېتانيا د اوکراين ملاتړ ته دوام ورکوي چې په متې يې روسيه د لويو هيوادونو له نوملړ څخه لرې کړي. د پورته هيوادونو له دريځونو څخه ښکاري چې د اوکراين جګړې ډګر به له حيرانوونکو او نامتراقبه پېښو ډک وي او ممکن حالت بيخي بدل کړي.

۱۴- په پای کې، لوی هېوادونه په ننني نړۍ انساني او اخلاقي ارزښتونو ته له پام پرته، د خپلو وحشي موخو او غوښتنو لاسته راوړلو په موخه يو له بل سره ښکر په ښکر دي. د خپلو غوښتنو لپاره عدالت په بې عدالتی بدلوي. د دې فکر ورسره نشته چې که يې دا غوښتنې د نورو په زيان وي يا بدې او شريرې وي. دوی په ځمکه کې فساد خپور کړی او نړۍ هغه وخت اصلاح کېږي چې دوی ترې ورک کړای شي؛ ورپسې به د الله سبحانه وتعالی په نصرت او د هغو کسانو په هلو ځلو چې کار ورته کوي، د نبوت پر منهج خلافت بيا تاسيس شي.

**[وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ]**

**ژباړه:** او په دغې ورځ به مومنان د الله په نصرت خوشاله شي. (الله سبحانه و تعالی) هغه چا ته نصرت ورکوي چې ويې غواړي او هغه برلاسی او مهربان ذات دی. [روم: ۴-۵]

**۶ ربيع الاول ۱۴۴۴ هـ.ق**

**۲ اکتوبر ۲۰۲۲ م**